## مطبوعاتي اعلاميه

### د نبوت پر منهج خلافت او د امت د وحدت لپاره غږ پر وړاندې د کندهار د ابتدائيه محکمې عجيب او غيرشرعي دريځ

د کندهار ولايت ابتدائيه محکمې د حزب التحرير پر ۱۵ تنو دعوتگرانو داسې حکم صادر کړی چې؛ تر څو چې دغه دعوتگران د نبوت پر منهج خلافت ته د دعوت له عمل څخه پښېماني او ندامت ونه ښيي او توبه ونه کړي، نو تر نامعلومې مودې پورې به په زندان کې پاتې شي. دا په دې معنی ده چې د حاکم نظام تر سيوري لاندې چې څوک د اسلام بشپړ او هر اړخيز تطبيق ته دعوت کوي او هغه ته پابند پاتې کېږي، نو په ابدي حبس به محکومېږي. آن د مرکزي اسيا د تر ټولو مستبدو رژيمونو، ظالمو عرب رژيمونو او کمونيستي او سيکولر دولتونو له ډلې هېڅ يوه يې په تېرو ۷۰ کلونو کې د دعوتگرانو پر وړاندې دغسې ظالمانه حکم نه دی صادر کړی. هغه کسان چې دغه ډول حکم يې کړی، په ډاډ سره ويلی شو چې دوی ټول ريکارډونه مات کړي دي. ايا واقعاً فکر کوئ چې دغه ډول ظلم به هغه دعوتگران، چې د الله سبحانه و تعالی پر عدالت ايمان لري، ووېروي؟ هغه عدالت چې که په دې دنيا کې متحقق نه شي، په قطعي توگه په اخرت پر خپل مقام درېږي.

موږ د دغې قضايي پرېکړې د غندلو ترڅنگ له هغو کسانو څخه، چې د مسلمانو دعوتگرانو پر وړاندې يې دا ډول ظالمانه پرېکړه کړې، پوښتو چې د دغه حکم اساس يې څه دی؟ د کوم شرعي، فقهي او مذهبي اصل له مخې او د کوم فرمان او داخلي عرف او قانون او آن نړيوال عرف او قانون پر اساس مو دغه پرېکړه کړې؟ ايا غواړئ په دغه ډول حکمونو مو موږ ته په مکي دور کې د اصحابو حال را په ياد کړئ چې د اسلامی دعوت په سبب يې يوازې دوه غوارې لرل؛ يا له اسلامي دعوت څخه تېرېدل او يا په سوځوونکې دښته کې تر مرگه پورې د ربړو او شکنجو زغمل!؟

د قضاوت مسند په اسلام کې خورا ارزښتناک مقام لري او هره پرېکړه يې بايد د اسلامي افکارو، احکامو او ارزښتونو په رڼا کې وشي. په دغه قضايي پرېکړه کې د نفس له هوا پرته بل څه نه ليدل کېږي. مسلمانان په حکم او قضاوت کې د انبياوو وارثين دي. نو يو قاضي څنگه کولی شي چې د دعوتگرانو پر وړاندې دغسې ظالمانه پرېکړه وکړي. موږ هغو قاضيانو ته، چې قصداً يا د جهل له مخې د اسلامي دعوت مخه نيسي، په دنيا کې له ذلت او اخرت کې له عذاب څخه انذار ورکوو او دوی بايد له خپلو دغو عملونو توبه وکړي. لکه رسول الله صلی الله عليه وسلم چې فرمايي:

**«الْقُضَاةُ ثَلَاثَةٌ: وَاحِدٌ فِي الْجَنَّةِ وَاثْنَانِ فِي النَّارِ؛ فَأَمَّا الَّذِي فِي الْجَنَّةِ فَرَجُلٌ عَرَفَ الْحَقَّ فَقَضَى بِهِ، وَرَجُلٌ عَرَفَ الْحَقَّ فَجَارَ فِي الْحُكْمِ فَهُوَ فِي النَّارِ، وَرَجُلٌ قَضَى لِلنَّاسِ عَلَى جَهْلٍ فَهُوَ فِي النَّارِ»** (ابو داود)

***ژباړه:*** *«قاضيان درې (ډوله) دي؛ يو (ډول) يې جنت ته ځي او دوه (ډوله) يې دوزخ ته. کوم چې جنت ته ځي، هغه سړی دی چې حق پېژني او پر حق حکم کوي. او هغه سړی چې حق پېژني او په حکم کې ظلم کوي هغه په اور کې دی او هغه سړی چې د جهل له مخې د خلکو قضاوت کوي هغه هم په اور کې دی.»*

د حيرانتيا خبره دا ده چې محکمې د دغو دعوتگرانو ازادي له دعوت څخه په توبه کولو پورې مشروطه کړې ده، کنه نو تر نامعلومې مودې پورې به په زندان کې پاتې شي. په حقيقت کې له شرعي نظره توبه له گناه او حرام څخه راگرځېدل دي. ايا د نبوت پر منهج خلافت ته دعوت، د امت وحدت ته دعوت او امر بالمعروف او نهی عن المنکر حرام کارونه دي چې دعوتگران ترې راوگرځي او توبه ترې وکړي؟ تاسو ته زموږ ځواب هغه دی چې په «طه» سورت کې راغلی:

**فَاقْضِ مَا أَنتَ قَاضٍ ۖ إِنَّمَا تَقْضِي هَٰذِهِ الْحَيَاةَ الدُّنْيَا** [طه:۷۲]

**ژباړه:** *«نو هر حکم چې کوې ویې کړه؛ ته یوازې په دې دنیوي ژوند کې حکم کولی شې!»*

د نظام ځينې چارواکي په داسې حال کې د حزب التحرير دعوت خطر ګڼي چې ملګري ملتونه، د محاربو هیوادونو سفارتونه او سیاسي بنسټونه او سلګونه ظاهراً بشردوستانه انجوګانې په افغانستان کې شته دي چې په څرګند ډول د اسلامي ارزښتونو او حاکم نظام پر وړاندې فعالیت کوي او ټوله هڅه یې دا ده چې حاکم نظام د کفري نړیوال نظم لارې ته برابر کړي؛ خو له بده مرغه د دوی د فعالیت په اړه هیڅوک هم اندېښنه نه لري. ځکه چې د ډالرو مېلیوني کڅوړو او مالي امتیازاتو د هغوی په هکله پر سیاسي بصیرت او شرعي موقف پرده غوړولې ده. لکه د ملګرو ملتونو ځانګړی استازي چې څو ورځې وړاندې وویل: «طالبان له غرونو راغلي او ... وخت نیسي چې زموږ اصول ومني.» ایا چا د دغو سپکوونکو خبرو پر وړاندې کوم شرعي درېځ غوره کړ؟ نه! په داسې حال کې چې د نظام د بقا لپاره اصلي خطر ذکر شوي موارد دي؛ خو د نظام ځينې چارواکي چې په زړونو کې یې «زيغ» دی، له دعوتګرانو سره یې دښمنۍ ته ملا تړلې، نیسي یې، تعذيبوي یې او په محکمو کې یې پر وړاندې ظالمانه پرېکړې کوي. که له دغو چارواکو سره د حزب التحرير د فعالیت او خیر غوښتنې په اړه درک او د اسلام د تطبیق او اخرت په اړه اندېښنه وای؛ نو دا ډول ظالمانه او بې‌نتیجې کړنې یې نه ترسره کولې.

د حزب التحرير دعوت یو نړیوال دعوت دی چې د امر بالمعروف او نهی عن المنکر فریضې په ترسره کولو سره حکام او د واک څښتنان د خلافت د تاسیس او امت د وحدت برخلیک ټاکونکې قضیې ته متوجه کوي او هغوی ته د حکومتولۍ اساسي لومړیتوبونه ور په ګوته کوي. څوک چې د دعوتګرانو خیر غوښتنې ته په ظلم سره ځواب ورکوي، هغوی دې پوه وي چې د تاریخ په اوږدو کې د الله سبحانه و تعالی سنت دا دي چې د ظالم قوم ځای بل قوم ته خالي کوي.

**وَإِن تَتَوَلَّوْا يَسْتَبْدِلْ قَوْمًا غَيْرَكُمْ ثُمَّ لَا يَكُونُوا أَمْثَالَكُم** [محمد:۴۷]

**ژباړه:** *«او هر کله چې (د الله له میثاق څخه) مخ واړوئ، الله مو پر ځای بل قوم (نور خلک) راولي؛ هغوی به بیا ستاسو پشان (عهد ماتوونکي او ظالم) نه وي.»*

**د حزب التحرير – ولایه افغانستان مطبوعاتي دفتر**